مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۸/۰۷/۱۲

# د امریکایي جنرالانو د سولې؛ د افغانانو د جګړې هڅې

په وروستیو وختونو کې د امریکایي جنرالانو له خولې آورو چې د افغانستان جګړه باید د سولې د لارې حل شي، د ناټو سر منشي ینس ستولتینبرګ په بروکسل غونډه (۱۱ جولای ۲۰۱۸) کې وویل چې د افغان جګړې حل د سولې د لارې غواړي.
په سعودي کې د علماوو د غونډې (۱۰ جولای ۲۰۱۸) اړوند د امریکا د دفاع وزیر جیمز متیس د سعودي له پاچا، ولیعد او د کعبې له امام څخه مننه وکړه چې د افغانستان د سولې اړوند غونډې ته یې د مکې مکرمې او جدې ښار کې زمینه برابره کړه.
واشنګټن پوست او نیویارک ټایمز د جون میاشتې په وروستیو کې داسې لیکنې خپرې کړې چې د افغانستان جګړه امریکایان نه شي ګټلای، په کار ده چې امریکا او طالب د سولې مخامخ مذاکرات پیل کړي.
داچې امریکایان د افغان کلتور او اسلامي تګلارو سره نا بلده دي، او افغان ملګري یې هم سمه لاره ورته نه ښیي، په لویه ستونزه کې ګیر پاتې دي.
اندونیزیا کې د علماوو غونډه مخکې له وخت څخه په افغانستان کې د امریکایي قواوو د عمومي قومندان جنرال جان نیکولسن د څرګندونو له امله بې تاثیره شوه، نیکولسن تر غونډې مخکې وویل چې پر طالبانو به مذهبي، سیاسي، ټولنیز او سیمئیز فشار راوړي چې له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته کښیني.
کابل کې د علماوو غونډه وشوه، او په اړه یې بېلابېلې څرګندونې وشوې، چاودنه وشوه، د ګډو حکومت مشر، امریکا، ناټو او ملګرو ملتونو یې په اړه مثبت، طالبانو، د کابل د علماوو رئیس او ځینو نورو یې په اړه منفي څرګندونې وکړې.
د سعودي عربستان جده او مکه مکرمه ښار کې د علماوو غونډې په لومړۍ ورځ د امریکا د دفاع وزیر جیمز متیس هغه لیک په ټولنیزو رسنیو کې خپور چې د سعودي عربستان له پاچا، ولیعد او د کعبې له امام څخه یې مننه کړې وه، پرته له شک چې یاد لیک پر خپل ځای منفي تاثیرات درلودل.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د جولای پر ۹مه ۲۰۱۸، وویل چې طالبان دې انتظار نه کوي چې امریکا به له افغانستان څخه ووځي، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر څرګندونې او د امریکا د فاع وزیر لیک د جدې او مکې مکرمې تر غونډې یوه ورځ مخکې، او د علماوو په غونډه کې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شتون نالیدلي او په اړه یې هیڅ بحث نه کول، د امریکا او ملګرو هیوادونو لخوا په بمباردونو کې د ملکي خلکو وژنې نه یادول، دا هغه مسایل دي چې پوښتنې را پورته کوي.
د امریکا دغه ډول کړنې، له اسلامي لاربوونو او افغان کلتور څخه نه پوهاوی، لا زیات کشران طالبان جګړې ته هڅوي، او د امریکا کړنې د سولې ضد هڅې بولي، بلکې کشران طالبان فکر کوي چې امریکا اصلاً سوله نه غواړي د جګړې د دوام لپاره تګلارې جوړوي.
داچې امریکا په افغانستان کې ۱۷ کاله جګړه کوي، اړینه ده چې د رسنیو استازي او علما ورڅخه پوښتنه وکړي چې دلته د کوم هدف لپاره یې پوځیان پراته دي، دوی څه غواړي او څه کوي، تر کوم وخت پورې به دلته جګړې ته دوام ورکوي.
د امریکا ولس، د کانګرس غړي، امریکایي رسنۍ او امریکایي جنرالان منې چې افغان جګړه نه شي ګټلای، د ولس او کانګرس لخوا یې د امریکا پر حکومت فشار دی چې له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کښیني، ولې ځینې افغانان؛ امریکایي سیاستوالو او جنرالانو ته وایي چې طالبان د ترمپ د نظامي تګلارې له کبله ځپل شوي، پر طالبانو ټولنیز او مدني فشار (پرلتونه او د سولې تر نوم لاندې ځینې حرکتونه، ټول نه)، مذهبي فشار (فتوی)، سیمئیز فشار ( له پاکستان سره اړیکې)، موږ (افغان چارواکي) د طالبانو له ځینو مشرانو سره اړیکه کې یو، هغوی به ډیر ژر له افغان حکومت سره مخامخ د سولې مذاکرات پیل کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

امریکایانو ته نن هغه څوک ډیرې کنځاوي، بد او رد وايې چې امریکانو ورته ډیر ډالر ورکړل، امریکا واک ته ورسول او د امریکايې ملاتړ له کبله یې نړیوال شهرت وموند. همدوی وو چې امریکایانو ته یې ناسم معلومات ورکول، امریکایان یې جګړې ته هڅول، کله چې امریکا ورڅخه خپل ملاتړ او پیسې قطع کړي، دوی د امریکا ضد خبرې پېل کړي.

اوسني ډیری چارواکې داسي دي لکه د امریکایانو ژباړونکي او عسکر، دوی هم راوړل شوې، واک ورته سپارل شوی، دلته د لیاقت او خدمت خبره نه ده، بلکې د امریکا د ګټو خبره ده، امریکا چې څه ورڅخه غواړي، امریکا چې کومه دنده ورته سپاري، همهغه کوي، او يو وخت چې پر دوی د امریکا ملاتړ او پیسې قطع شي، بیا به دوی هم امریکا ته تر بل هر چا ډیر ښکنځل کوي.

په تیرو ۱۷ کلونو کې امریکا لوی بمونه په افغان خاوره غورځار کړل، دلته یې جګړې وکړي، وژنې یې وکړي، خلک یې ونیول او بندیان کړل، کلي یې رنګ کړل، خلک یې د هیواد پرېښودلو ته مجبور کړل، د جګړې معیارونه منفي لور ته بدل شول، کلتور او مذهب ته سپکاوی وشو، امریکا او ملګرو هیوادونو پوځیانو یې خپل ټول نظامي زور و ازمایو، نتیجه څه شوه؟ ۱۷ کلونه وروسته امریکايې جنرالان وايې چې امریکا – افغان جګړه نظامي حل نه لري، باید طالبان د سولې خبرو ته حاضر شي.

یوه لویه ستونزه دا هم ده چې دا مهال رسنۍ کنټرول شوې، راپورونه یې محدود شوې، د ازاد لیکوال او خبریال ژوند د مرګ له ګواښ سره مخ دی، حقایق افغان او امریکايې ټولنې ته نه رسيږي.

د شمال ټلوالې د مشرانو لخوا د لنډ مهاله حکومت ږغ، په شمال کې لاریونونه، د ګډ حکومت د لومړي مرستیال دوستم، استاد محقق او عطانور ګوت څنډنې، قومي او ژبنې تعصبونه، دا هرڅه د افغانستان په ګټه نه دي.

دا چې امریکا له طالب سره مخامخ  خبرو ته نه کښیني او طالب له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته نه کښیني، ستونزه ده، ولي د ستونزې د حل لپاره باید کوشش وشي، نه دا چې د جګړې د اوږدیدو له پاره هڅې وشي.

په کار ده چې افغان ولس، د امریکا له ولس سره د دوی د پوځیانو په وتلو کې مرسته وکړي، د امریکايې پوځیانو جګړه له افغان ولس سره ده، له کومې ډلې او یا قبیلې سره نه ده، له ولس سره جګړه پرته له شک څخه امریکا نه شي ګټلای، ښه به وي چې د جګړې د ختم لپاره ولسونه لاس په کار شي، او د جګړې د اوږدیدو دسیسې شنډې کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ